سمیع الدین افغانی

۲۰۱۶/۰۴/۱۵

# زور واکي

عجیبه شـــانـــته حـــالت دی
څوک بري څوک ملامت دی؟

سړي سر پــرې نه خلاصیږي
څوک حاکم کوم یو رعیت دی؟

که مظبوط ناست په چوکۍ وي
هر څه جوړ خیر او خیریت دی

که بیا لــړي د قـــدرت شي
بس کرځی پــري مــلامت دی

ها غټ سترګـــی بـــي حیا خو
دعـــوه ګیـــره د قـــدرت دی

که څوک لږ ورته غصه شي
بیا پردو ته يي شکایت دی

دا چي ملک کي څه تیریږي
ددي خپل ستایل او رغبت دی

صرف په جنګ کي يي هستي ده
وروړګلوي نه يي نفرت دی

څوک جهاد لار کي شهید شو؟
چا پــري کـــړی تجارت دی؟

په خوله یو چي زړه کي بل وي
لوی شیطان دی پري لعنت دی







افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولـئ